## جمشېد مومند

دي کــۀ ســـمې کـــۀ کـــږې دي آئينـــې
رښـــتيا وائـــي ځکـــه ښـــې دي آئينـــې

خپـــل مخونـــه چـــې پـــردي راتـــه ليـــدے شـــي
مـــونږ ړانـــدۀ يـــو کـــۀ ړنـــدې دي آئينـــې

بـــس خـــو فـــرق د خپـــل نظـــر دے ګنـــې دلتـــه
يـــوه دوه نـــۀ بـــلا ډېـــرې دي آئينـــې

د يادونـــه تصـــويرونه ئـــې البـــم کښـــې
د ژونـــدون تېـــرې لمحـــې دي آئينـــې

د مخونـــو جـــاج راځـــئ چـــې پکښـــې واخلـــو
د دې ښـــار چـــوک کښـــې پرتـــې دي آئينـــې

## کليم الحق کليم

بلبلـــو تـــه ورپـــاتې شـــوې نغمـــې د ښائســـتونو
څوک نۀ کوي محفـل کښـې اوس قصې د ښائسـتونو

هغـۀ شـاعر د خُلې نـه اوس سـاړۀ اسـويلي درومـي
چې تکـو کښـې ئې پنډې وې ورمـې د ښائسـتونو

هـــم دغـــه د دې حســـن د رنګونـــو قـــاتلان دي
چـــې تـــل د حفاظـــت کـــوي دعـــوې د ښائســـتونو

په ما کښې يو ځائے شوي دي د عشق واړه سيندونه
پـه تـا کښـې يـو ځـائے شـوې نمـونې د ښائسـتونو

د تـــا لـــه کتـــابي مـــخ مـــې نظـــر پـــه بلـــه نـــۀ ځـــي
چـــې کلـــه پوهـــوم زړۀ پـــه معنـــې د ښائســـتونو

خدائے مۀ کړه چې طلب د محبت په زړۀ کښې کم شي
خدائے مۀ کړه چې شي بندې دروازې د ښائستونو

کليمـه د يـار مينـه مـې پـه زړۀ کښـې يـو ځـائے کـړې
پـــه رنـــګ د محبـــت پـــه بهـــانې د ښائســـتونو

## عامر ګمريانے

ګټې ئې وکـړې چې بـدل شـو موسـمونو سـره
او مـونږ خـوار شـو د همـه صـداقتونو سـره

هره شپه ستا د وصل خوب وينمه ورک لالېه
او راپاڅمـــه د فرقـــت د اوازونـــو ســـره

يو چې له ځانه کله تنګ شم بل په ځان مئين شم
دوه وختـــه الـــوځم د زانـــو د ســـېلونو ســـره

ســتا د نظــر هــره ګېلــه منــي خــالي لاســونه
خـو مـا پښـوا يـاري پرېکـړې د ګلونـو سـره

ما په خپل ځان کښې د سکون چپې موندلې نۀ وې
کـۀ زړۀ مـې جـوړه نـۀ وې کـړې د غمونـو سـره

پـه هـر قـدم ئې شـاعري سـپړي جديـد رنګونـه
عـــامر روان دے د غـــزل روايتونـــو ســـره

## حبيب راهي

پـــه مخـــه تلـــو ماتـــه ئـــې خيـــال ونـــۀ کـــۀ
وخـــت زورورؤ مـــا پـــرې ســـوال ونـــۀ کـــۀ

تـــۀ خـــو چـــې لاړې نـــو بـــس لاړې لاړې
تپـــوس دې بيـــا زمـــا د حـــال ونـــۀ کـــۀ

آپخـــوانے رومـــال رېښـــه رېښـــه شـــو
رالـــه دې ګـــل پـــه بـــل رومـــال ونـــۀ کـــۀ

الله دې خبـــر کـــړي چـــې دا څـــۀ وجـــه وه
نـــن دې اوربـــل پـــه تنـــدي تـــال ونـــۀ کـــۀ

مـــونږه د غـــم روږي تـــر ننـــه نيســـو
مـــونږه اختـــر ســـږنے کـــال ونـــۀ کـــۀ

غـــم دې پرانســـتي تنـــی ګرځـــي پکښـــې
راهـــي د زړۀ کـــور کښـــې دېـــوال ونـــۀ کـــۀ